خدایه! لوی می کړه لویی رامه کړی
دوهم: ډیری خبري دقرآن ښي دي
دریم: په یو ګل نه پسرلې کیږی
څلورم: خپل عمل د لاری مل
پنځم: کوګ بار تر منزله نه رسیږی
شپږم: خوار په هیندوستان هم خوار وی
اووم: د مولا منډا د جوماته پوری یی
اتم: سپایی کار دی څه دی، جنګ جګړه
نهم: وړند د خدای نه څه غواړی، دوه سترګی
لسم: که شپه تیاره ده مښی په شمار دی
یوولسم: چی څه تیار وی هغه د یار وی
دولسم: د غل په غره کښی ځای نه کیږی
دیارلسم: میړَنئ د میړاني چا منی کړی
څوارلسم: دلمدو ختو لګی اُبه دارو وی
پنځلسم: طبیب هغه دی چې رنځ پری تیر وي
شپاړسم: جرنده که دپلار ده هم په وار ده
اووه لسم: د زرو قدر په زرګر وي
اتلسم: هرچاته خپل وطن کشمیر وی
نولسم: هر سړی تر خپل مطلبه پوری یار دي
شلم: خپله خله هم قلا ده هم بلا
یوویشتم: هندو سترړی خدای ناراضه
دوه ویشتم: تور توتان تانه قربان
درې ویشتم: مه کوه په چا چي وبه شي پر تا
څلور ویشتم: زه د پلار ژاړم ته می کړی خوله پوری خاندی

پنځه ویشتم: زوم هم له کوره او لور هم له کوره
شپږ ویشتم: زړه که ولی نه دی نو خالی هم نه دی
اووه ویشتم: زه دې پوزه پرې کوم ته رنه پیزوان غواړې
اته ویشتم: ګډې پېئ دې راکړل، خو د پچو ډک
نهه ویشتم: هر سور ګیرے شاه ګل نه وي
دېرشم: هسې غر هسې یې کربوړي
یو دېرش: هڅ ګل بی اغزی نه وی
دوه دېرش: ذات یې ګوره دوست یې بوله
درې دېرش: سل داوړ د یوه لاوړ
څلور دېرش: سل دی ومره خو دسلو سر دی مه مره
پنځه دېرش: لمرپه دوه ګوتو نه پټیږی
شپږ دېرش: چی ډول دی وی په څنګ د وهلم یی څه ننګ
اووه دېرش: ډَبره چی په ځای پرته وی نو درنه وی
اته دېرش: سیند د سپي په خوله نه ناولی کیږي
نهه دېرش: مار ته په لستوڼي کې ځای مه ورکوي
څلویښتم: سر چی سلامت وی خوَلۍ ډیری
یو څلویښتم: سیند په لوټه نه خړیږي
دوه څلویښتم: سل په لالی پوری دا یوه پی دبنګړو
درې څلویښتم: سر دپاسه سردی
څلور څلویښتم: چې په تنګ شي نو په جنګ شي
پنځه څلویښتم: چي څه کرې هغه به ریبې
شپږ څلویښتم: مار خوړلی، له پړي یریږي
اووه څلویښتم: ډیره یی نه مونده او لګه یی نه خوړه
اته څلویښتم: ډمې! ښه ګډېږه، چې ښه شرمیږې

نهه څلویښتم: ډیر وخوره ګنډیر وخوره
پنځوسم: ډاډمن ډار نلري
یو پنځوس: سترګی په ښو نه درنیږی
دوه پنځوس: ماما چی سر ګرځی د خوری تری طمه کیږی
دريِ پنځوس: مرګ مشر او کشر نه ګوري
څلور پنځوس: اول ځان دي بیا جهان دي
پنځه پنځوس: اوړه دي په اوړه مینت دي په څه
شپږ پنځوس: اوبه په ډانګ نه بیلیږي
اووه پنځوس: ابۍ مړه شوه تبه يې وشکیده
اته پنځوس: که لاړمه تر بلخه راسره وه خپله برخه
نهه پنځوس: کار خپله وکړه رحمت د کلي واخله
شپېتم: دیو لاس څخه تک نخیږی
یو شپېتم: دکبرکاسه نسکوره ده
دوه شپېتم: روغ صحت نیمه پاچاهی ده
دريِ شپېتم: راستي زوال نه لري
څلور شپېتم: رښتیا چه راځی، نو دروغو کلی وران کړيِ وی
پنځه شپېتم: چی اوښان ساتی نو دروازی به لوړی ګدی
شپږ شپېتم: چی په خوړلو یی موړ نه شی نو په څټلو به یی څه موړ شی
اووه شپېتم: خر کاری هم هنر غواړی
اته شپېتم: خپل بد د ولي منځ پردي بد د کلي منځ
نهه شپېتم: خبره خه کوم خو اخره یی کږه کوم
اویایم: خپله لاسه ګله لاسه
یو اویایم: خپله نیک بختی د نورو په بد بختی کی مه ګوره
دوه اویایم: خر چه د خر نه کم وي، نو غوګ ئے د پریکولو وي

درېِ اویایم: خپل که د مړ کړی لمر ته دی نه غورزوی
څلور اویایم: خر که مری خپل بار به وړی
پنځه اویایم: خر د خید په خوراک څه پوهیږي
شپږ اویایم: خپلی شڑی سره خپی غزول پکار دی
اووه اویایم: اختر چه تیر شي نو نکریزے په دیوال اوتپه
اته اویایم: اختر څه پټ میږه نه دے
نهه اویایم: آئینه د چا عیب نه پټوي
اتیاوم: زړه په زړه آئینه ده
یو اتیاوم: که غل سل پردي کورونه وران کړي خو خپل یو کور به اباد نه کړي
دوه اتیاوم: چې پهٔ اخور دې لوی شي، غاښونه یې مهٔ ګوره
درېِ اتیاوم: چپه خله بادشاهي ده
څلور اتیاوم: چې نه کار هلته څه کار
پنځه اتیاوم: زه په تمه او ته بیغم
شپږ اتیاوم: زوړ یار زین کړے آس وي
اووه اتیاوم: زورورو اوبه په لوړو خیږی
اته اتیاوم: چی بد ګرځی بد به پر ځی
نهه اتیاوم: چاړه که د سرو شي نو په خیټه د منډلو نه وي
نویم: چې نه کار هلته څه کار
یو نویم: چه ستوان خوري نو هغوي شپیلي نه وخي
دوه نویم: چی وی غواړی په خوله نو و به ئۍ خوری په څه
درېِ نویم: چې سر دې نه خوږېږي داغ پرې مه ایږده
څلور نویم: ګل په بوټی کی خه خکاری
پنځه نویم: ګیره زما واک یی دملا ده

شپږ نويم: قوت په يووالي کښې دی
اووه نويم: قېصې ډېرې خو سر يې يو
اته نويم: سور سپی د ليوه ورور دی
نهه نويم: تور خر په صابن نه سپينيجی
سل: مړشې مجبوره مشه شې